محمد هارون خپل شعشعی


۲۵ اگست ۲۰۰۱

## په لیبیا کي د استعماري ناورین پیلامه

د طرابلس د پرون او وړمي ورځي امنيتي حالاتو، په خپل وران او غملړلي هيواد - افغانستان کي د شمالي اتحاد د مزدور و سياسي مشرانو او جنگي قومندانانو هغه دردونکي او شرمناکي خاطرې را په ياد کړې، چي د د امريکايي يرغل په لومړيو ورځو کي يې د طالبانو د پياوړي مقاومت د ختمولو په مقصد له امريکايي پوځيانو څخه د لاسختو او درنو بمبارييوغوښتني کولې؛ او پلويانويي د لېونو په شان د هر بم په لوېدو سره په واټو اوکوڅو کي اتڼونه کول . دا دئ تر لسو کالو وروسته يو پلا بيا هم د سيمي او تولني په بېلوالي سره د همغه راز سياسي او امنيتي حالاتو د تکرار شاهدان يو؛ د ليبيا مزدورو ډلو ټپلو هم له خپلو پردو بادارانو څخه غوښتنه کوله، چي د قذافي د پلويانو پر مرکزو لا زوروري اومزبوتي بمبارۍ وکړي؛ او د لنډغرو ډلو غړي  هم د طرابلس په کوڅو او بازارو کي د ناټو بمباريبو ته مستی او نڅاوي کيي .

په ليبيا کي هم د افغانستان په څېر، د معمر قذافي د واکمن رژيم ټول دوښمنان، مخالفين او مَرَوَر کسان د لوېديځو هيوادو د استخباراتي مؤسسو له خوا په يوه متحده جبهه کي را غونډ کړل سوه؛ پيسي، وسلي، مهمات او د اړتيا وړ هر راز وسايل او تجهيزات ور ته چمتو سوه؛ او پر شا و ټکول سوه، چي ټول د قذافي د رژيم د نسکورولو دپاره په ګډه وجنګيري .

لکه څنګه چي د طالبانو د رژيم بېلابېلومخالفو ډلو ټپلو په خپل موټ هيڅ توره ونه کړه، د قذافي د رژيم غير متجانسو دوښمنانو او مخالفينو هم د لوېديځو او ځينو عربي هيوادو له پرېمانه پوځي او اکمالاتي مرستو سره سره د قذافي د حکومت په نسکورولوکي څه لوی برى تر لاسه نه کړ. له همدي امله، د ځينو لوېديځو هيوادو جګړه مارو پوځي او سياسي کړييو د خپلو استعماري ګټو د تحقق په مقصد« د ليبيا د ملکي وګړو د ژغورني » په درواغجنه او غولوونکي پلمه، پر ليبيا هوايي بريدونه پيل کړه؛ او په دې توګه يې د خپلو پرمختللو جنګي وسلو په مرسته، د قذافي د رژيم په نړولو کي مستقيمه برخه واخيسته؛ د مزدورانو په اصطلاح « عبوري ملي شورا» يې د ليبيا د قانوني دولت په توګه په رسميت و پېژنده؛ په بهرنييو بانکو کي يې د قذافي د دولت ټوله پانګه او شتمنی کنګل

کړه؛ او د راډیو، تلویزون او بېلابېلو ملکي نخښو په بمباراولو سره یې له هیڅ راز ظالمانه جنایت څخه لاس وانخیست . د نړۍ خلګو د تلوېزوني خپرونو له لاري ولیده، چې د قذافي د رژیم د پوځیانو او نورو وسله والو پلویانو په پرتله، د ناټو په ړندو بمبارییو او بریدو کي د لیبیا ملکي خلګو او عامه شتمنییوته، ستر تلفات او تاوانونه ورسېده .

که څه هم یرغلګر هیوادواو د هغو مزدورو ډلو ټپلو په خپلو هوایي او ځمکنییو بریدو سره د قذافي پاشلئ، یوازي پاته او کلابند دولت را وپرازوه؛ او نور د تاریخ یوه برخه وګرځیدئ؛ خو مهمه او اساسي پوښتنه داده، چې د کروز توغندییو، بي ۵۲، ایف ۱۸، مېراژ  او داسي نورو انساني ضد وسلو په زور د لیبیا د سیاسي رژیم اړول، د دغه هیواد وېشلي او پاشلي اولس ته، څه ګټه رسولای سي که څنګه؟

د نړۍ وینښ او دراک انسانان ټول په دې حقیقت ښه پوهېږي، چې په لیبیا کي د بشري حقوقو، اولسواکی، قانونیت، عدالت او ترقی تر پردې لاندي دا خونړۍ او ظالمانه لوبه یوازي پلمه او بهانه ده،که نه نو په یمن، بحرین، مصر، تونس، اوردن، مراکش، سعودي عربستان او داسي نورو هیوادوکي ولي د میلیونو انسانانو د روا او سوله ییزو غوښتنو پر خلاف تر اوسه د مزدورو، مستبدو او فاسدو رژیمو ملاتړ کیږي؟  مګر ټول جهان نه ګوري، چې همدا اوس په یمن او بحرین کي د واکمنو رژیمو د پولیسواو نورو امنیتي ځواکو له خوا د خلګو پر سوله ییزو مظاهرو او لاریونو سرې ګولی اوري؛ اعتراض کوونکي په محبسو او توقیف ځایوکي اچول کیږی؛ او د واکمنانو ډول ډول ظلمونه او تعذیبونه ګوري؛ خو په لیبیا، سوریه او دې ته ورته هیوادو مثلاً ایران کي د استعماري نخشو د تحقق په مقصد، عام خلګ او تروریستي ډلي ټپلي د واکمنو رژیمو پر ضد وسله وال پاڅون ته هڅول کیږي؛ وسلې، مهمات، تخنیکي او مخابراتي وسایل، پیسې او رنګارنګ مرستي ور سره کیږي . ډبل سټنډرډ، دوه مخي او منافقت خو څه ښکرونه او لکۍ نه لري .

د مستبدو او فاسدو رژیمو پر خلاف سوله ییز یا وسله وال پاڅون، یوازي د یوه  هیواد د وګړو حق دئ . بهرني دولتونه او جاسوسي سازمانونه په هیڅ نامه او هیڅ بڼه حق نه لري، چې د خپلو سیاسي، اقتصادي او ستراتیژیکو ګټو د تر لاسه کولو په خاطر په خلګو کي د دوښمنی او کرکي توخمونه وکري . استعماري دولتو په لیبیا کي د اوسنیو خونړیو حالاتو اجندا کلونه  مخکي جوړه کړې وه، چې نن دادئ نن یې د مزدورو ډلو ټپلو په کومک عملي کړه .

باید په روښانو ټکو یادونه وکو، هغه بدلون، چې د پردو پوځیانو په مستقیم ګډون، لاربنوونه او مرسته را منځ ته کیږي، هیڅکله اولسي پاڅون نه، بلکي د پردو  هیوادو برمنډ او بې شرمانه یرغل دئ . په دغه راز  تپل سوو بدلونوکي د ټولني عامو خلګو ته نه یوازي هیڅ راز ګټه نه رسیږي، بلکي د بېوزلی او بې وسی پخوانی حالت یې هم د پردو او خپلو زوروواکانو د بې رحمانه را ج او تاراج له امله، په دوږخ بدلیږي .

شک نسته، چې د امریکا، انګلستان، فرانسې، ایتالیا او ځینو نورو ایتلافي هیوادو دا ظالمانه یرغل به د افغانستان او عراق په شان ځینو وطن پلورونکو سیاسي ډلو ټپلواو لویو انحصاري شرکتوته د ګټو وټو ښه شرایط او امکانات برابر کړي؛ خو د افغانستان او عراق د عامو خلګو په څېر به د لیبیا عام اولس هم نور د کورنییو جګړو، ناامنییو، دوښمنیو او مخالفتو له امله د خوښی او نېکمرغی مخ و نه ګوري .

البته، دا خبره د قذافي یا د هغه د نسکور سوي سیاسي نظام د ملاتړ په مانا نه ده، بلکي مقصد دا دئ، چې اولسواکي، قانونیت، پرمختګ او انساني ژوند هیڅکله د پردي توپ و ټانک او جنایتکارو ډلو ټپلو په مرسته نسي راتلای . د پردي توپ و ټانک او جنایکارو ډلوټپلو په مرسته د سیاسي رژیمواړول، نه یوازي په بین المللي

اړېکوکي د ځنګله قانون ته د« رسميت » او « مشروعيت » ورکولو په مانا دئ، بلکي د يوې ټولني د مهمو او حياتي مسألو له حل سره هم هيڅ رار مرسته نه کولای . بالعکس ټولنه د تنظيمي، قومي، قبيله يي، مذهبي او ژبنيو اړېکو پر بنسټ پر بېلابېلو ډلو وېشي؛ او په دې توګه خونړيو جګړو، ورانييو او ناخوالو ته لار هواروي . افغانستان او عراق يې ژوندي مثالونه دي . نړۍ وال ټول ګوري، چي افغانستان او عراق له کلو راهيسي د اور په لمبوکي سوځي؛ لکونه بې ګونا وګړي يې په بې رحمۍ سره د پردو او خپلو په خونړيو بريدوکي تر خاورو لاندي سوه؛ ميليونونه يې تر اوسه له لوږي، وزګارتيا، بې عدالتييو، فساد او ډول ډول ستونزو څخه سر ټکوي؛ او ميليونونه نور يې د سوله ييز ژوندانه، کار او قانوني حکومت د نسته والي په سَوَب په پردو هيوادوکي د پردېسۍ شپې او ورځي سبا کيي .

موږ او تاسي به ټول شاهدان يوو، هغه هيواد چي تر پرونه يې د نورو هيوادو لکونو بېوزلو کارګرانو ته د کار او روزګار شرايط برابرکړي وه؛ او خپلو وګړو يې د شاو خوا ګاونډييو هيوادو په پرتله سوکاله ژوند لاره، تر دې وروسته به د استعمارګرو هيوادو او مزدورو زورواکو د چپه او راسته غوبلو له شامته، د افغانستان او عراق په څېر په يوې ګولي ارامي ډوډۍ پوري اريان يي؛ خلګ به يې د ژوندي پاتېدو، ناموس ساتلو او نس مړولو په خاطر پر شلو لارو مخه نيسي . دا ځکه چي د استعمارګرانو صادر سوی پاڅون هيڅکله د خلګو غوښتنه نه ده؛ او په هيڅ ډول هغوی ته سوکالي او نېکمرغي نه راوړي .